د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

پکتیکا پوهنتون

علمي او محصلانو چارو معاونیت

کارموندني مرکز

# کارموندني مرکز پالیسي

کال ...................................................... ۱۴۰۴ هـ ش

# فهرست


سریزه ........ 1

ددې پالیسي اساس ........ 3

د پالیسي موخه ........ 3

د کمیټې ارزښت او مسؤلیتونه ........ 3

د محصلانو د ظرفیت لوړولو برنامې ........ 4

له فارغانو سره د دندې په پیدا کولو کې مرسته ........ 5

اړین مهارتونه او روزنیز پروگرامونه ........ 5

د پالیسي تطبیق او ارزونه ........ 6



د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## سریزه

پکتیکا پوهنتون د افغانستان له مهمو دولتي تحصیلي بنسټونو څخه دی چې د بشري پانګې د روزنې، د علم د پراختیا او د ټولنې د دوامدار پرمختګ په برخه کې مهم مسؤلیت پر غاړه لري. دا پوهنتون دا مهال څه کم ۱۷۰۰ تنه برحاله محصلان لري او هر کال شاوخوا ۴۰۰ محصلان د بېلابېلو پوهنځیو څخه فارغوي. پکتیکا پوهنتون د ٦ پوهنځیو (ښوونه او روزنه، کرنه، اقتصاد، انجینري، شرعیات او ویترنري ) له لارې علمي، مسلکي او تخصصي زده کړې وړاندې کوي او هڅه کوي چې خپل محصلان او فارغان د ټولنې د واقعي اړتیاوو او د کار بازار د غوښتنو سره سم وروزي.

په اوسني وخت کې د کار بازار چټک بدلون، د دندو محدود فرصتونه، او د مسلکي او عملي مهارتونو لوړې غوښتنې دا اړتیا رامنځته کړې ده چې پوهنتونونه یوازې پر نظري زده کړو بسنه ونه کړي. ډېری محصلان او فارغان، سره له دې چې علمي وړتیا لري، د کار موندنې په بهیر کې له بېلابېلو ستونزو سره مخ وي؛ لکه د کار بازار په اړه د معلوماتو نشتوالی، د مسلکي مهارتونو کمزورتیا، د CV او غوښتنلیکونو په سم جوړولو کې نابلدتیا، او د مرکې ورکولو د تجربې نشتون.

د همدې اړتیاوو له امله، د پکتیکا پوهنتون د کار موندنې مرکز کمیټه د یو منظم او معیاري جوړښت په توګه رامنځته شوې ده، تر څو د ځلورم ټولګي محصلانو او فارغانو لپاره د کارموندنې زمینه اسانه کړي او د پوهنتون او کاري بنسټونو ترمنځ اغېزمنه اړیکه رامنځته کړي. دا کمیټه د محصلانو د ظرفیت لوړولو، د مسلکي مهارتونو د پیاوړتیا، د کار فرصتونو ته د لاسرسي، او له محلي، ملي او خصوصي ادارو سره د همکارۍ په پراختیا کې مهم رول لري.

دا پالیسي د دې لپاره ترتیب شوې ده چې د کار موندنې مرکز کمیټې فعالیتونه منظم، همغږي او معیاري کړي، د کمیټې دندې او مسؤلیتونه روښانه کړي، او د محصلانو او فارغانو لپاره د کارموندنې اړوند خدمتونه په دوامداره، شفاف او اغېزمن ډول تنظیم کړي. د دې پالیسي تطبیق به د پکتیکا پوهنتون د فارغانو د استخدام وړتیا لوړه کړي او د پوهنتون علمي او ټولنیز رول به لا پیاوړی کړي.

د علمي او محصلانو چارو معاونت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## لومړۍ ماده:

## د کارموندنې مرکز او کمیټې ایجاد

د کار موندنې مرکز کمیټه د پکتیکا پوهنتون د ۱۴۰۴ کال علمي شورا د (   ) ګڼه پرېکړې پر بنسټ رامنځته شوې ده، څو د محصلانو او فارغانو د مسلکي ملاتړ، د کارموندنې اسانتیا او د پوهنتون او کار بازار ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا لپاره په منظم ډول فعالیت وکړي.

**د کمیټې تشکیل**

د کار موندنې مرکز کمیټه له ۱۱ تنو څخه تشکیل شوې ده، چې له ډلې څخه یې یو تن د کمیټې د مسئول په توګه، یو تن د منشي په توګه او اته تنه نور د کمیټې د غړو په توګه دندې ترسره کوي.

**ددې پالیسي اساس**

د دې پالیسي اساس لاندې اسناد، اصول او معیارونه تشکیلوي:

۱ .د لوړو زده کړو وزارت نافذه قوانین، پالیسی او رهنمودونه؛

۲ .د لوړو زده کړو د کیفیت لوړاوي ملي او بنسټیز معیارونه؛

۳ .د پکتیکا پوهنتون منظور شوی ستراتېژیک او انکشافي پلان؛

۴ .د کار بازار اړتیاوې او د محلي، ملي او خصوصي ادارو غوښتنې؛

۵ .د محصلانو او فارغانو مسلکي اړتیاوې او د هغوی د ظرفیت لوړولو اړین لومړیتوبونه.

**د پالیسي موخه**

- د فارغانو او د څلورم ټولګي محصلانو لپاره د کارموندنې سیستماتیک ملاتړ رامنځته کول.
- د محصلانو مسلکي، تخنیکي او نرم مهارتونه پیاوړي کول.
- د کار بازار له اړتیاوو سره د محصلانو بلدتیا زیاتول.
- له محلي، ملي او خصوصي ادارو سره د همکارۍ چوکاټ رامنځته کول.

**د کمیټې ارزښت او مسؤلیتونه**

د کار موندنې مرکز کمیټه لاندې اساسي ارزښتونه تعقیبوي:

- شفافیت او حساب ورکوونه
- مسلکیتوب او کیفیت
- د محصل‌محور خدمتونو وړاندې کول
- دوامداره همکاري له کاري بنسټونو سره

**اصلي مسؤلیتونه:**

- د کارموندنې اړوند برنامو طرحه او تطبیق
- د محصلانو د اړتیاوو ارزونه او کاري مهارتونه لوړول
- د کار بازار له ادارو سره همغږي او اړیکې او د فارغانو سره په دنده پیدا کولو کې مرسته کول

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## دوه یمه ماده:

## د پوهنځي او دیپارتمنټو مسؤلیتونه

ټول پوهنځي او اړوند دیپارټمنتونه مکلف دي چې هر کال د خپلو فارغانو کره معلومات، په ځانګړي ډول د فارغانو نوملړ، د اړیکې واټساپ شمېرې او نور اړین تماس معلومات، د کار موندنې مرکز کمیټې ته په رسمي ډول وسپاري، تر څو فارغان د پوهنتون د فارغانو په ځانګړي واټساپ ګروپ کې شامل شي او د کارموندنې له اعلانونو او معلوماتو څخه پر وخت ګټه واخلي. همدارنګه، که د پوهنتون

له لوري د فارغانو (Alumni) منظم سیستم رامنځته شي، پوهنځي او دیپارټمنټونه مکلف دي چې یاد معلومات په یاد سیستم کې هم ثبت او ترې استفاده وکړي، څو د فارغانو د تعقیب، همغږۍ او ملاتړ بهیر لا اغېزمن او منظم شي.

د محصلانو د ظرفیت لوړولو برنامې

کمیټه مکلفه ده چې د محصلانو او فارغانو لپاره منظم ظرفیت لوړونکي پروګرامونه تنظیم کړي، چې د هغو له جملې څخه ځینې په لاندې دول دي:

- مسلکي مهارتونه Communication Skills، Teamwork، Problem Solving
- تخنیکي مهارتونه د رشتې مطابق
- د کار اخلاق او مسلکي چلند
- د وخت مدیریت او کاري پلان جوړونه

## درېیمه ماده:

## فارغانو ته د مشورې ورکولو طرزالعمل

د کار موندنې مرکز کمیټه د محصلانو او فارغانو د مسلکي ستونزو د حل او لارښوونې په موخه یو منظم او شفاف د مشورې ورکولو طرزالعمل لري، څو محصلان وکولای شي خپلې علمي، مسلکي او کاري ستونزې په ډاډمن چاپېریال کې شریکې کړي او لازمې مشورې تر لاسه کړي.

- د دې طرزالعمل له مخې، هر محصل یا فارغ کولای شي خپله ستونزه، اړتیا یا پوښتنه په مستقیم ډول د کمیټې له مسئول سره شریکه کړي. دا ستونزې کېدای شي د کار موندنې، د رشتې مطابق د دندې انتخاب، د مسلکي مهارتونو کمزورتیا، د CV او Cover Letter جوړولو، د مرکې لپاره چمتووالي، د دندې فورمونو ډکولو..... پورې اړه ولري.
- محصل مکلف دی چې خپله ستونزه په واضح او منظم ډول، یا په شفاهي بڼه د حضوري لیدنې له لارې او یا هم په لیکلي ډول د رسمي غوښتنلیک، ایمیل له لارې د کمیټې مسئول ته وړاندې کړي. د کمیټې مسئول مکلف دی چې د محصل ستونزه په پوره دقت، محرمیت او مسلکي چلند واوري، اړین معلومات ترې ترلاسه کړي، او د ستونزې د ماهیت له مخې مناسبې لارښوونې او مشورې وړاندې کړي.
- که ستونزه ساده او د فوري حل وړ وي، د کمیټې مسئول کولای شي هماغه مهال لازمې مشورې ورکړي.
- د کمیټې مسئول همدارنګه مکلف دی چې محصل ته د موجودو روزنیزو پروګرامونو، سمینارونو، ورکشاپونو او د کارموندنې فرصتونو په اړه معلومات ورکړي، څو محصل وکولای شي د خپلې ستونزې د حل لپاره له شته امکاناتو څخه ګټه واخلي. ټولې مشورې باید عملي، واقع‌بینانه او د محصل د رشتې او وړتیاوو سره سمې وي.
- دا طرزالعمل د محصلانو د باور، محرمیت او عدالت اصل تضمینوي او هېڅ محصل به د مشورې غوښتلو له امله له تبعیض، فشار یا منفي چلند سره مخ نه کېږي. د دې طرزالعمل موخه دا ده چې محصلان د کار بازار ته په باوري، مسلکي او چمتو بڼه ور داخل شي او د خپل مسلکي راتلونکي په اړه روښانه لید تر لاسه کړي.

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

## څلورمه ماده:

## له فارغانو سره د دندې په پیدا کولو کې مرسته

دا کمیته په لاندې برخو کې د محصلانو ملاتړ وړاندې کوي:

- د دندې فرصتونو پېژندنه او لارښوونه ورته کول
- د کار غوښتنې (Application) په بهیر کې مشوره ورکول
- د استخدام پروسو په اړه معلومات ورکول
- د کار ورکوونکو او فارغانو ترمنځ نښلونکی رول لوبول

د کار موندنې مرکز کمیته د فارغانو او وروستي ټولګي محصلانو لپاره د کارموندنې فرصتونو ته د لاسرسي د اسانتیا په موخه، د تشو بستونو د معلوماتو د راټولولو او اعلانولو یو منظم طرزالعمل لري. د دې طرزالعمل له مخې، کمیته په دوامداره توګه د بشري سرچینو له مدیریتو )د محلي دولتي او خصوصي ادارو د نشراتو او معلوماتو له مدیریتونو سره اړیکه ساتي، څو د خالي بستونو او کاري فرصتونو په اړه کره او تازه معلومات تر لاسه کړي.

- د کمیټې مسئول او اړوند غړي د یادو ادارو له لوري خپاره شوي رسمي اعلانونه، مکتوبونه او خبرتیاوې راټولې کړي او د معلوماتو له کره‌والي او اعتبار څخه ډاډ ترلاسه کړي.
- وروسته له دې، د کار موندنې مرکز کمیته مکلفه ده چې د تشو بستونو یاد معلومات په چټک، شفاف او منظم ډول د فارغانو له رسمي واټساپ ګروپونو او نورو منظور شوو ارتباطي چینلونو له لارې اعلان کړي، تر څو ټول فارغان په مساوي ډول د دندو له فرصتونو خبر شي. دا اعلانونه باید واضح، بشپړ او د غلط فهمی څخه پاک وي.
- کمیته همدارنګه هڅه کوي چې د اعلان شوو بستونو په اړه فارغانو ته لازمې لارښوونې او مشورې هم وړاندې کړي، څو هغوی وکولای شي د غوښتنلیک بهیر په سمه او مسلکي توګه تعقیب کړي. د دې مادې تطبیق به د معلوماتو د شفاف جریان، د فرصتونو د عادلانه وېش او د فارغانو د کارموندنې د چانسونو په زیاتوالي کې مهم رول ولوبوي.

د پکتیکا پوهنتون د فارغانو لپاره ځانګړی واټساپ ګروپ موجود دی، چې د کار موندنې مرکز کمیټې تر نظارت لاندې اداره کېږي. په یاد ګروپ کې د دولتي، خصوصي او محلي ادارو له لوري د خالي بستونو، کاري فرصتونو او اړوندو اعلانونو معلومات په منظم ډول شریکېږي، څو فارغان وکولای شي د دندې له فرصتونو څخه په مساوي او عادلانه ډول خبر شي او د کار غوښتنې بهیر په مناسب ډول تعقیب کړي.

## پینځمه ماده:

## اړین مهارتونه او روزنیز پروګرامونه

کمیته د لاندې موضوعاتو په اړه منظم سمینارونه او ورکشاپونه تنظیموي:

- د CV او Cover Letter جوړولو مهارت
- د دندې مرکې (Interview) مهارتونه
- د دندې فورمونو سم ډکول
- مسلکي ایمیل جوړول او اداراتو ته لیږل
- د آنلاین دندې غوښتنې او دکار پیدا کولو سایټونو څخه استفاده

## شپږمه ماده:

## د محصلانو د ستونزو او اړتیاوو نظر سنجي

- د پوښتنلیکونو (Questionnaires) له لارې د محصلانو اړتیاوې راټولول او د اړتیاوو په اساس زده کړییزې برنامې به لار اچول

- د فارغانو تعقیبي غونډې(Follow-up Meetings)
- د ترلاسه شوو معلوماتو پر بنسټ د برنامو اصلاح او ښه والی

د دندو اعلانونه او معلومات رسول

- د خالي بستونو اعلانونه د ایمیل، ټولنیزو شبکو او خبرپاڼو له لارې رسول
- د محصلانو لپاره د معلوماتو مساوي لاسرسی تضمینول

**اوومه ماده:**

**له محلي ادارو سره همکاري**

کمیته مکلفه ده چې:

- د محلي ادارو د استخدام مدیران او د بشري سرچینو مسؤلینو سره اړیکه ولري.
- د خالي بستونو او عملي فرصتونو په اړه معلومات ترلاسه او له محصلانو سره شریک کړي.

**اتمه ماده:**

**د پالیسي تطبیق او ارزونه**

- دا پالیسي د اړوندې ادارې له تصویب وروسته د تطبیق وړ ده.
- د کمیټې فعالیتونه به په منظم ډول ارزول کیږي.
- د اړتیا په صورت کې به پالیسي تعدیل او نوي کیږي

**نهمه ماده**

**د فارغ التحصل محصلانو د کارموندنې مرکز لپاره د کارموندنې میکانیزم په لاتدې ډول وړاندې کیږي**

# د کارموندني مېکانیزم




پورته میکانیزم د کارموندني مرکز د پروتوکول ( ۶ ) او ۱۳/ ۹/ ۱۴۰۴نیته او دعلمي شورا د پروتوکول(   ) او   /   / ۱۴۰۴ نیته تائید دی .

د علمي او محصلانو چارو معاونیت
معاونیت علمی و امور محصلان
Vice Chancellor of Academic & Student Affairs
Paktika University

پورته د کارمونديي مرکز پالیسي په (۹) مادو کې ترتیب شوې ده د پکتیکا پوهنتون د کارمونديي مرکز کمېټي په ( ۱۰ ) ګڼه او ۲۲/ ۱۰/ ۱۴۰۴ نېټې غونډه کې تائید شوې ده.

پوهنمل محمد یوسف واحدیار

د علمي او محصلانو چارو مرستیال

دا پالیسي په (۹) مادو کې ترتیب شوې ده د پکتیکا پوهنتون د علمي شورا په ( ۱۰ ) ګڼه او ۶/ ۱۱/ ۱۴۰۴ نېټې په غونډه کې تائید شوې ده.

الحاج مولوي سیدمحمدداود اغا الهاشمي

د پکتیکا پوهنتون رئیس